صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان



# ارگ پانه

شماره ۱۰۰
د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د وياند دفتر، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز
د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نېټه: شعبان المعظم ۱۵، کال ۱۴۴۷ هجري قمري

## د ۱۴۰۵ هجري لمريز کال د حج پروسه کې

# افغانستان ته ۳۰ زره سهميه ورکړل شوې ده



په هغه خبري ناسته کې، چې د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو په مرکز کې ترسره شو، د ارشاد، حج او اوقافو وزارت رهبري د ۱۴۰۵ هجري لمريز کال د حج پروسې د لګښتونو او سهمېې په اړه معلومات وړاندې کړل.
د ارشاد، حج او اوقافو وزير، محترم شيخ الحديث سر محقق دوکتور نور محمد ثاقب، ووېل: د ۱۴۰۵ هجري لمريز کال د حج پروسه کې له سعودي عربستان څخه د افغانستان لپاره، ۳۰ زره د حج سهميه ترلاسه او د متقاضيانو ترمنځ په عادلانه ډول وېشل شوې ده.
محترم ثاقب زياته کړه، د اسلامي امارت له بريا وروسته، په ټول هېواد کې ۸۷۱۰۴ تنه د حج پخواني ثبت شوي متقاضيان پاتې وو، چې د ځينو نوبتونه يې تر ۱۴۱۲ هجري لمريز کال پورې رسېدل، بناءً د سهمېې د دقيق، شفاف او...


۲

## د سوالګرو راټولولو او سوالګرۍ څخه د مخنيوي کمېسيون غونډه جوړه شوه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د سوالګرو راټولولو او سوالګرۍ څخه د مخنيوي کمېسيون نوبتي غونډه په مرمرينه مانۍ کې جوړه شوه...

۲

## سفر معاون اداری رياست الوزراء به ولايت بلخ



۵

## افتتاح روند توزيع کمک‌ها به مهاجرين ولايت سرپل



۵

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د ترکمنستان د لومړي وزير مرستيال او بهرنيو چارو له وزير سره وکتل



۲

## ديدار رئيس عمومی دفتر مقام رياست الوزراء با شماری از جوانان شمال وشمال شرق کشور


۵

### حج او په دې برخه کې د اسلامي امارت خدمتونه

د افغانستان اسلامي امارت تل خلکو ته د صادقانه خدمت او د حج د سترې فريضې ادا کولو په برخه کې د اړينو اسانتياوو برابرولو په موخه پراخې او هر اړخيزې هڅې کړې دي. په منظم، شفاف او عادلانه ډول د حج پروسې مديريت، د اسلامي حکومت له مهمو لومړيتوبونو څخه شمېرل کېږي. د ارشاد، حج او اوقافو وزارت، د ګټورو تدابيرو او روښانه ميکانيزمونو د رامنځته کولو، د هر ډول بې‌نظمۍ او فساد مخنيوي او د حجاجو کرامو د نوم ليکنې او لېږد پروسه کې د عدالت د تامين برخه کې بنسټيز ګامونه پورته کړي دي. اسلامي امارت ژمن دی چې دا ملي او اسلامي پروسه په پوره شفافيت، نظم او مسئوليت سره مديريت کړي او په ډاډمن او خوندي چاپېريال کې د هېواد ټولو وګړو ته د دې ستر عبادت د ادا کولو لپاره زمينه برابره کړي.
د حج وزارت د مسئولينو په وينا، هغوی داډ ورکوي چې د بيت الله شريف د حاجيانو خدمت او د حج په ټولو مراحلو کې ځواب ويل او د عدالت تامين؛ د اسلامي امارت له اساسي ارزښتونو څخه دي او دا هڅې به په پوره قوت سره دوام ولري.

مولوي نعيم الحق حقاني
د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز رئيس

## د اسلامي امارت د قلمي او فرهنګي مبارزينو ستاينغونډه جوړه شوه



۵

## سرمقاله

### ملي ثبات او انساني کرامت پر لور بنسټيز او عملي ګام؛ بېرته راستنېدونکو ته د استوګنيزو نمرو وېش

افغانستان له تېرو څو لسيزو راهيسې د جګړو، بې‌ثباتۍ او اقتصادي ستونزو له امله د مهاجرت له سختې پديدې سره مخ پاتې شوی؛ خو په دې وروستيو کې له ګاونډيو هېوادونو د افغانانو جبري راستنېدل يو داسې واقعيت دی، چې د دولت، ټولنې او اړوندو ادارو پر اوږو يې د مسئوليت بار لا زيات کړی دی. په همدې لړ کې، د کور او ښار جوړولو وزارت له لوري راستنېدونکو مهاجرينو ته د استوګنيزو نمرو وېش چټکول نه يوازې د يوه اداري اقدام په توګه د پام وړ دي، بلکې د ملي ثبات، ټولنيز عدالت او انساني کرامت د خوندي کولو لپاره يو بنسټيز او عملي ګام هم ګڼل کېږي.
د کور او ښار جوړولو وزارت په مشرۍ د مهاجرينو د دايمي مېشتېدنې او ځمکو د وېش کمېټې په دې وروستيو کې د جبري راستنېدونکو مهاجرو کورنيو لپاره د دايمي استوګنې په موخه د ځمکو د نمرو وېش ګړندی کړی دی. د ياد وزارت د رهبرۍ له لوري د منظور شوو تفصيلي پلانونو پر بنسټ، په کونړ، لغمان، ننګرهار، کندز، باميان، ميدان وردګ او کندهار ولايتونو کې د ځمکو وېش پيل شوی او لا هم دوام لري. دا پراخ جغرافيايي پوښښ ښيي چې دا موضوع يوازې په يوه سيمه پورې محدوده نه ده، بلکې د هېواد په کچه د راستنېدونکو لپاره د مېشتېدو واضح او منظم پلان په پام کې نيول شوی دی.
د ياد بهير شمېرې هم د دې پروګرام پراخوالی او چټکتيا په ښه ډول څرګندوي. په کونړ ولايت کې ۱۶۷ راستنېدونکو کورنيو ته ځمکې وېشل شوې او ټوليزه شمېره تر دې مهاله ۳۵۱ کورنيو ته رسېدلې ده. په لغمان ولايت کې ۱۲۳ کورنيو ته ځمکې ورکړل شوې، چې ټوليز شمېر يې تر دې دمه ۸۴۵ نمرو ته لوړ شوی دی. په ننګرهار ولايت کې ۲۷۰ کورنيو ته د ځمکو وېش ترسره شوی او...

۲

## سرمقاله

# ملي ثبات او انساني کرامت پر لور بنسټيز او عملي ګام؛ بېرته راستنېدونکو ته د استوګنيزو نمرو وېش

...تر دې مهاله ۶۳۳ کورنيو ته توزيع بشپړه شوې ده. په کندز ولايت کې ۷۶ کورنيو ته نمرو وېش شوی او مجموعي شمېر ۸۱۱ کورنيو ته رسېدلی دی. همدارنګه، په ميدان وردګ ولايت کې ۷۵ کورنيو ته ځمکې توزيع شوې دي، او په کندهار ولايت کې بيا د قرعه‌کشۍ له بهير وروسته ۲۰۰۰ راستنېدونکو کورنيو ته د ځمکو وېش ترسره شوی دی.

تر ټولو مهمه دا چې په دې وروستيو کې ۲۷۱۱ راستنېدونکو کورنيو ته د دايمي مېشتېدنې په موخه ځمکې وېشل شوې دي، او په ټوليز ډول تر دې مهاله ۵۵۴۲ راستنېدونکو مهاجرو کورنيو ته د ځمکو توزيع بشپړه شوې ده.

دا شمېرې د يوې سترې اړتيا په وړاندې د حکومت د عملي اقداماتو ښکاره ثبوت دی؛ ځکه د راستنېدونکو کورنيو تر ټولو لومړنۍ اړتيا سرپناه او د ژوند د بيا پيل لپاره يو ثابت او خوندي ځای دی.

په حقيقت کې، د استوګنې ځمکو وېش يوازې د يوې نمرې ورکولو معنا نه لري؛ بلکې دا د يوې کورنۍ د عزت، امنيت او راتلونکې د خوندي کولو معنا لري. هغه کورنۍ چې له جبري راستنېدو سره مخ کېږي، ډېری وخت له هر ډول امکاناتو بې‌برخې وي؛ نه سرپناه لري، نه ثابت عايد، او نه هم د ژوند لپاره مناسب چاپېريال. نو کله چې هغوی ته د دايمي مېشتېدنې زمينه برابرېږي، په حقيقت کې د بې‌ځايه کېدو د کړکېچ د حل يوه عملي دروازه پرانيستل کېږي او د ټولنيز فشار د کمېدو لامل ګرځي.

له بلې خوا، دغه بهير د ښار جوړونې او منظمې پراختيا لپاره هم ځانګړې اهميت لري. که راستنېدونکي بې له پلان او تنظيمه په ښارونو کې خپاره شي، د ناقانونه مېشتېدو، د خدماتو کمښت او د ښاري فشار ستونزې ډېرېږي. خو د تفصيلي پلانونو پر بنسټ د ځمکو وېش دا فرصت برابروي، چې د نوو مېشت ځايونو لپاره لازمې اسانتياوې لکه سړکونه، اوبه، برېښنا، ښوونځي او روغتيايي مرکزونه هم په تدريجي ډول برابر شي.

په پای کې ويلای شو چې د کور او ښار جوړولو وزارت له لوري د څه باندې پنځه نيم زره استوګنيزو نمرو وېش د مهاجرينو لپاره د باعزته ژوند د تامين په لور يو مهم او د ستاينې وړ ګام دی. دا اقدام دا پيغام لري چې راستنېدونکي يوازې د مرستې مستحق وګړي نه دي، بلکې د هېواد د بيا رغونې او پرمختګ برخه هم کېدای شي؛ خو شرط يې دا دی چې د دوی د مېشتېدو لپاره دوامدار، منظم او عادلانه ملاتړ روان وساتل شي.

# د سوالګرو راټولولو او سوالګرۍ څخه د مخنيوي کمېسيون...

...د غونډې په پيل کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د دغه کمېسيون د رامنځته کېدو پر اصلي هدف او همدارنګه د تېرو درېيو کلونو پرمهال له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولولو پروسې پر ارزښت خبرې وکړې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، د دغه کمېسيون د غړو ادارو د هڅو په پايله کې له کابل ښار څخه تر ډېره سوالګر راټول شوي او له مستحقو سوالګرو سره د اسلامي امارت له لوري په مياشتني ډول نغدي او د خوراکي توکو مرستې شوې دي.


ورپسې د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت د مسئولينو له لوري د سوالګرو راټولولو او سوالګرۍ څخه د مخنيوي کمېسيون له کړنو څخه د نظارت راپور غونډې ته وړاندې شو. د راپور له مخې، په کابل ښار کې د سوالګرو راټولولو پروسې له پيل راهيسې ۷۴۹۶۸ سوالګر راټول شوي، چې له دقيقې ارزونې وروسته يې ۳۷۹۴۷ مستحق او ۳۷۰۲۱ بيا حرفوي سوالګر پېژندل شوي. مستحق سوالګر افغاني سرې مياشتې ته ورپېژندل شوي، چې په مياشتني ډول ورته د بانکي حسابونو له لارې پيسې حواله کېږي. همدا ډول يوشمېر مستحق سوالګر بيا د درملنې په موخه د عامې روغتيا وزارت او ځينې بيا د کارموندنې په موخه کابل ښاروالۍ ته ورپېژندل شوي.

په راپور کې د دغه کمېسيون د ترسره شوو فعاليتونو ترڅنګ په يوشمېر برخو کې موجودې ستونزې هم له ګډونوالو سره شريکې شوې.

د راپور له اورېدو وروسته د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د دغه کمېسيون ټولو غړو وزارتونو او ادارو ته جدي سپارښتنه وکړه، چې د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی له لوري «د سوالګرو راټولولو او سوالګرۍ څخه د مخنيوي کمېسيون» منظور شوی طرزالعمل په ښه ډول عملي او تطبيق کړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه، په لومړيو کې په کابل ښار کې د سوالګرو شمېر تر ډېره کم شو؛ خو په دې وروستيو کې يوځل بيا څه ناڅه زيات شوی چې جدي تعقيب او کار ته اړتيا لري. همدارنګه پرېکړه وشوه چې د کورنيو چارو وزارت د نشه‌يي توکو پر وړاندې د مبارزې معينيت په مشرۍ به د دغه کمېسيون غونډه په مياشت کې يوځل ترسره کېږي او د خپلو فعاليتونو راپور به د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال ته وړاندې کوي.

# د ارشاد، حج او اوقافو وزارت: د ۱۴۰۵ هجري لمريز کال د حج پروسه کې افغانستان ته ۳۰ زره...




...عادلانه وېش په پايله کې، وزارت وتوانېد چې نېږدې ټول دغه منتظر حاجيان په پنځو کلونو کې حج ته ولېږي.

د ارشاد، حج او اوقافو د وزير په وينا، د عامو حاجيانو ترڅنګ، د مجاهدينو، امارتي ادارو، د شهيدانو وارثانو، معلولينو او مهاجرينو لپاره جلا سهمې ټاکل شوې دي.

همداراز، د حج مناسکو د سمې لارښوونې لپاره به د ۳۴ ولايتونو له علماوو څخه ازموينې واخيستل شي او بريالي کسان به د ښوونکو په توګه له حاجيانو سره حرمينو شريفينو ته واستول شي.

محترم ثاقب د خپلو خبرو په دوام وويل: سعودي عربستان ته د حجاجو د منظم تګ راتګ لپاره له اريانا افغان او کام اير هوايي شرکتونو سره قراردادونه شوي، چې حاجيان به د هېواد له څلورو پروازي زونونو څخه مدينې منورې او جدې ته انتقال کړي.

د ښاغلي ثاقب د معلوماتو پر بنسټ، د استوګنځايونو، خوړو، ترانسپورټ او نورو اړينو خدمتونو ټول قراردادونه پر وخت ترسره او په مکه مکرمه او مدينه منوره کې د ټولو حاجيانو لپاره په مناسبو ځايونو کې استوګنځايونه نيول شوي، تر څو هغوی وکولای شي چې خپل عبادتونه په اسانۍ سره اداء کړي.

محترم ثاقت زياته کړه، د ټولو اړوندو قراردادونو د شفاف تطبيق، دقيق سنجش او د غير ضروري مصارفو د مخنيوي په پايله کې، سږ کال د يوه تن حاجي لګښت ۲۶۶۴۰۰ افغانۍ او د حج د ټولې پروسې مجموعي لګښت، ۷۸۱۸۳۰۷۲۰۰ افغانۍ ټاکل شوی دی.

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د معلوماتو له مخې، حاجيان کولای شي چې د دوشنبې له ورځې (۱۳ سلواغه ۱۴۰۴) څخه، په مرکز کې د حج، عمرې او زيارتونو له لوی رياست او په ولايتونو کې د ارشاد، حج او اوقافو له رياستونو څخه تعرفې ترلاسه او ياده اندازه پيسې اړوندو بانکونو ته وسپاري.

# د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د ترکمنستان د لومړي وزير مرستيال او بهرنيو چارو...

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هرات ولايت کې د ترکمنستان د لومړي وزير مرستيال او بهرنيو چارو وزير ښاغلي رشيد مردوف سره وکتل.

د دغه ليدنې پرمهال د افغانستان د کانونو او پټروليم وزير محترم الحاج ملا هدايت الله بدري، د اوبو او انرژۍ وزير محترم الحاج ملا محمد يونس اخوندزاده، د ترکمنستان د ترانسپورټ او ريل پټلۍ وزير، د دولت وزير او د ترکمن ګاز دولتي شرکت رئيس او يوشمېر افغان او ترکمن مسئولينو هم حضور درلود.

په دغه ليدنه کې د دواړو لورو ترمنځ د تاپي، ټاپ، د اوسپنې پټلۍ او برېښنا پروژو په اړه خبرې وشوې.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، د تاپي پروژې پيل د افغانستان، ترکمنستان او سيمې هېوادونو ترمنځ د اړيکو پراختيا ته زمينه برابره کړې او په دې پروژه کې د سعودي عربستان دلتا انټرنېشنل کمپنۍ هم پانګونې ته لېوالتيا ښودلې ده.

د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خبره، دلتا انټرنېشنل کمپنۍ لېواله ده چې د تاپي پروژې د ګازو اخيستلو، د ترکمنستان د لوی ګازي بلاک د ظرفيت لوړولو، د هرات ولايت له ګذرې ولسوالۍ څخه د کندهار ولايت تر سپين بولک ولسوالۍ، له سپين بولدک بيا د هند تر پولې د ګازو د پايپ لاين جوړولو او غځولو، د پاکستان په ګوادر بندر کې د ګازو د ستر او عصري مرکز جوړولو په برخو کې پانګونه وکړي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال همدارنګه له ترکمنستان وغوښتل چې د تورغونډۍ – هرات ريل پټلۍ پروژې د جوړېدو په اړه افغانستان ته خپل دريځ روښانه کړي؛ ځکه د دې پروژې د تطبيق لپاره قزاقستان هم قوي لېوالتيا لري.

هغه همداراز د افغانستان له لوري د ټاپ پروژې د لار نقشې د نهايي کېدو لپاره بشپړ چمتووالی وښود او د دې ترڅنګ يې بالا مرغاب، خماب او قرقين ولسواليو ته د برېښنا انتقال او د سيمه ييز اتصال د نورو پروژو د پيل لپاره د افغانستان له لوري د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ. هغه د دواړو هېوادونو ترمنځ په روانو پروژو کې افغانانو ته د کاري زمينې د برابرېدو په اړه هم ټينګار وکړ.


ورپسې د ترکمنستان د لومړي وزير مرستيال او د بهرنيو چارو وزير ښاغلي رشيد مردوف خبرې وکړې. هغه له اسلامي امارت څخه مننه وکړه چې د تاپي پروژې د تطبيق لپاره يې ښه زمينه برابره کړې او وې ويل، چې د روان ميلادي کال تر پايه به د دې پروژې کارونه د هرات ولايت تر مرکز پورې راورسېږي. نوموړي په تاپي پروژه کې د بهرنيو شرکتونو د پانګونې له لېوالتيا هرکلی وکړ او زياته يې کړه، چې په دې اړه بايد له نږدې کار ورسره وشي.

همداراز هغه د ترکمنستان له لوري د تورغونډۍ – هرات ريل پټلۍ پروژه کې هم پانګونې ته چمتووالی وښود او وې ويل چې عملاً يې په تورغونډۍ کې کارونه پيل کړي. نوموړي زياته کړه، هېواد يې چمتو دی چې له پنځو لارو افغانستان ته برېښنا انتقال او ظرفيت يې لوړ کړي.

پردې سربېره د دواړو لورو ترمنځ د سوداګرۍ پراخېدو، بانکي همکاريو، کاري فرصتونو پر ايجاد او په مختلفو برخو کې د اقتصادي پروژو د مديريت په اړه د ګډ کار کولو په اړه هم خبرې وشوې.

د يادونې وړ ده چې د غونډې په پای کې د دواړو هېوادونو د تخنيکي ټيمونو له لوري د روانو پروژو د کاري پرمختګونو په اړه تفصيلي معلومات هم له ګډونوالو سره شريک شول.

# د لوګر ولايت د مهاجرينو د ښارګوټي تفصيلي پلان منظور شو



د کور او ښار جوړولو وزير محترم الحاج مولوي نجيب‌الله حيات حقاني، د لوګر ولايت د مهاجرينو د ښارګوټي لپاره ترتيب شوی تفصيلي پلان لاسليک او منظور کړ.

ياد پلان د ۷۰۰ جريبه دولتي ځمکې پر مخ ډيزاين شوی، چې په کې د منظمې ښاري پراختيا له اصولو سره سم ۱۰۲۶ استوګنيزې نمرې شاملې دي.

دغه ښارګوټی به د راستنېدونکو مهاجرو د استوګنې د دايمي ستونزې د حل په موخه جوړ شي.

د منظور شوي پلان له مخې، ښارګوټی به بنسټيزې اسانتياوې لکه د استوګنې منظمې نمرې، داخلي سړکونه، شنې ساحې، د جوماتونو، ښوونځيو، روغتيايي مرکزونو او عامه خدمتونو لپاره ځانګړې شوې ساحې ولري، څو مېشتېدونکو ته يو مناسب او معياري ښاري چاپېريال برابر شي.

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی د ځانګړي حکم له مخې، هرې مهاجرې کورنۍ ته به ۵ بسوې استوګنيزه نمره ورکول کېږي، چې دا چاره د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه له لوري د مهاجرينو د عزتمندانه بيا مېشتېدو او ټولنيز ثبات د ټينګښت څرګندونه کوي.

د دې پلان له منظورېدو وروسته به د تطبيق عملي چارې د اړوندو ادارو په همغږۍ، د امکان تر حده په چټک او منظم ډول پيل شي، تر څو له ياد ښارګوټي څخه پر وخت ګټه واخيستل شي.

PANA ARG
Islamic Emirate of Afghanistan
Govt. Media and Information Center
www.gmic.gov.af
Issue #100

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
+93 (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af

Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foriegn Affairs, Kabul, Afghanistan

# Deputy PM Launches Winter Aid for Migrant Families in Northern Afghanistan






Mawlavi Abdul Salam Hanafi, Deputy Prime Minister for Administrative Affairs, conducted an official visit to several northern provinces, during which he inaugurated the distribution of aid to returning and eligible migrant families and met with religious scholars, influential community elders, and business representatives.

In Balkh province, the Deputy PM, accompanied by Mawlavi Attaullah Omari, Minister of Agriculture, Irrigation, and Livestock, the Head of the Council of Scholars, and local officials, formally launched the distribution of...ContP#4


# Afghanistan Secures 30,000 Hajj Quota for 1405



The Ministry of Hajj and Religious Affairs, announced that Saudi Arabia has allocated 30,000 Hajj slots to Afghanistan for the 1405.

Speaking at a press conference, held at the Government Media and Information Center (GMIC), the ministry's leadership said the quota has been distributed transparently and...ContP#4

# 59 Development Projects Completed in Kunar Province



The Ministry of Rural Rehabilitation and Development reported that 59 projects in Chawkai district, Kunar province, costing over AFN 97 million, have been completed and inaugurated. The projects include rural roads, irrigation canals, and retaining walls, creating hundreds of jobs during implementation and effectively addressing local community needs.

# Eight Women Rescued from Domestic Violence Across Five Provinces

Officials from the Ministry of Vice and Virtue and Complaints Handling, rescued eight women who had faced long-term domestic violence in...ContP#4

# Longstanding Feuds in Helmand, Kunar, and Uruzgan Resolved Through Mediation

...ContP#4

## Editorial

# Returning Families Gain Dignity and Stability Through Land Distribution

For decades, Afghanistan has grappled with the devastating consequences of war, instability, and economic hardship, resulting in widespread migration. Recently, the forced return of Afghan nationals from neighboring countries has presented an additional responsibility for the government, society, and relevant institutions. In this context, the accelerated allocation of residential plots to returning migrant families by the Ministry of Urban Development and Housing is not merely an administrative action; it represents a fundamental and practical step toward national stability, social justice, and the preservation of human dignity.

Under the leadership of the Ministry of Urban Development and Housing, the Committee for Permanent Settlement and Land Allocation for Returning Migrants has recently expedited the distribution of residential plots for families of forcibly returned migrants. Based on detailed, approved plans, the allocation process has commenced in Kunar, Laghman, Nangarhar, Kunduz, Bamyan, Maidan Wardak, and Kandahar provinces and continues to expand. This wide geographic coverage demonstrates that the initiative is national in scope, providing returning families with a clear, organized, and sustainable settlement plan.

The program's numbers illustrate its scale and efficiency. In Kunar, 167 families have received land, totaling 351 families to date. In Laghman, 123 families were allocated plots, bringing the cumulative total to 845 plots. In Nangarhar, 270 families received land, reaching 633 families overall. In Kunduz, 76 families were provided plots, totaling 811 families in the province. In Maidan Wardak, 75 families received plots, and in Kandahar, following a lottery process, 2,000 returning families were allocated land. Overall, 2,711 families have recently received residential plots, and to date, 5,542 returning migrant families have been successfully provided with land. These figures reflect the government's practical and timely response to one of the most urgent needs of returning families: secure housing and a stable environment in which to rebuild their lives.

The allocation of residential plots extends beyond the provision of land; it ensures dignity, security, and a viable future for families uprooted by displacement. Many returning households arrive without shelter, steady income, or access to basic living necessities. By facilitating permanent settlement, the government opens a practical path to resolving displacement challenges and reducing social pressures.

Furthermore, this initiative carries significant implications for urban planning...ContP#4

# Afghanistan Secures 30,000 Hajj Quota for...

...fairly among eligible applicants.
Minister of Hajj and Religious Affairs, Sheikh-ul-Hadith Dr. Noor Mohammad Saqib, noted that following recent developments in the country, the number of long-waiting Hajj applicants had reached 87,104, but the ministry has managed to organize their dispatch within a five-year plan through structured measures.
The ministry also announced that a well-organized quota system has been set for different segments of society. In addition, teacher selection exams will soon begin in all 34 provinces, and qualified individuals will accompany pilgrims to Saudi Arabia as instructors.
According to the ministry, multiple contracts have been signed with domestic companies and Saudi-based firms to ensure essential services for pilgrims, including transportation, accommodation, meals, and other facilities.
The ministry confirmed that the cost per pilgrim for the 1405 Hajj process has been set at AFN 266,400, while the total estimated cost of the overall Hajj process is AFN 7,818,307,200.
The official Hajj registration process for year 1405, is set to begin on Monday this week, and applicants can obtain bank fee forms from the General Directorate of Hajj, Umrah and Ziyarat in Kabul, as well as from the provincial directorates across the country.

# Eight Women Rescued from Domestic...

...Tahar, Balkh, Faryab, Herat, and Daikundi provinces.
These women, previously deprived of their religious rights, were safely removed from abusive situations, and their rights were restored in accordance with Islamic law. Husbands were summoned to provincial offices, provided guidance on legal and religious responsibilities, and required to provide written commitments to refrain from future abuse and uphold their wives' rights.

# Detailed Urban Plan for Logar Refugee Township Approved

Minister of Urban Development and Housing, Mawlavi Najibullah Hayat Haqqani, officially signed and approved the detailed urban plan for a refugee township in Logar province.
The plan encompasses 700 jeribs of state-owned land and includes 1,026 residential plots, designed according to principles of organized urban development.
This township aims to provide permanent housing for returning refugees, featuring internal roads, green spaces, mosques, schools, health centers, and public service areas, ensuring a safe and modern urban environment.
Under the directive of the Supreme Leader of the Islamic Emirate of Afghanistan, each refugee family will receive a residential plot, reflecting the Islamic Emirate of Afghanistan's commitment to dignified resettlement and social stability. Implementation will commence promptly in coordination with relevant authorities.

# Deputy PM Launches Winter Aid for Migrant...

...assistance packages for migrant families.
Mawlavi Hanafi urged all citizens to support returning families and other eligible compatriots, particularly during the harsh winter, to help alleviate their challenges.
In Faryab province, he held a meeting with merchants and business owners. The attendees expressed appreciation for the services and facilitation provided by local authorities and emphasized that security is fundamental to economic development and attracting both domestic and foreign investment.
Mawlavi Hanafi reaffirmed the Islamic Emirate's commitment to promoting economic growth and creating sustainable employment opportunities.
In Sarepul province, Mawlavi Hanafi oversaw the distribution of assistance to returning families, emphasizing that addressing the needs of migrants is a core responsibility of the Islamic Emirate. He noted that many migrants had been compelled to leave the country during the occupation to preserve their religion and honor, and now require support and reintegration.
In Jawzjan province, he inaugurated assistance distribution for migrant families and attended the graduation ceremony of the third cohort of Darul-Uloom and Darul-Hefaz Omari in Andkhoy district, congratulating graduates, instructors, and families. He stressed the pivotal role of religious scholars in societal reform and the promotion of Islamic values, noting that the Islamic Emirate provides special support to educational and religious institutions. This cohort included 44 graduates specializing in Quranic and Hadith studies.
Mawlavi Hanafi also met with scholars, community elders, and business representatives in Jawzjan. Participants commended authorities for ensuring security and delivering services, while requesting expanded focus on developmental, educational, and health projects. Mawlavi Hanafi assured that the Islamic Emirate maintains comprehensive attention to development, education, and healthcare, and will continue implementing initiatives to promote the welfare and progress of the nation.
These visits and initiatives were conducted under the guidance of the Supreme Leader of the Islamic Emirate of Afghanistan, through the High Commission for Addressing Migrants' Affairs, with the dual objective of supporting vulnerable populations and fostering economic development across the country.

# Public Health Directorate Shuts 38 Facilities and Seizes Expired Food and Medicines

Officials from the Paktia Public Health Directorate conducted inspections of private health facilities and food stores in Gardez, Zurmat, and Rohani Baba districts.
As a result, 38 medical facilities, including 4 full-service clinics, 18 examination centers, 9 dental clinics, 6 laboratories, and 1 X-ray unit, were closed due to operating without legal licenses and violating health regulations. Furthermore, approximately 2 tons of expired items, including 15 pharmaceutical products and 82 food items, were collected and transported to the central warehouse for safe disposal.

## Editorial

# Returning Families Gain Dignity and Stability Through Land Distribution

...and organized development. Unplanned settlements of returning families could lead to illegal occupation, overstretched public services, and urban congestion. By following a structured and detailed plan, the government can ensure that essential infrastructure; including roads, water supply, electricity, schools, and healthcare facilities; is gradually developed alongside the new settlements.
In conclusion, the distribution of over 5,500 residential plots to returning migrant families by the Ministry of Urban Development and Housing represents a major and commendable step toward ensuring dignified living conditions. This initiative conveys a clear message: returning families are not merely aid recipients; they are active contributors to the nation's reconstruction and development, provided they continue to receive sustained, organized, and equitable support for their settlement.

# Longstanding Feuds in Helmand, Kunar, and Uruzgan...

...In Helmand, Kunar, and Uruzgan provinces, long-running disputes that had resulted in fatalities and social unrest have been successfully resolved through the efforts of provincial Directorates of Borders and Tribal Affairs, alongside religious scholars and community elders.
In Helmand's Nawa district, a 45-year-old feud between two families in the Khlach area, which had claimed eight lives, was mediated successfully. Both parties agreed to forgive one another, transforming the longstanding enmity into friendship.
Similarly, in Kunar province, an eight-year land dispute was resolved with the assistance of local authorities and tribal leaders. After thorough investigation, the disputed land was allocated to the rightful claimant, with both parties expressing full satisfaction and accepting the resolution peacefully.
In Uruzgan's Chinartu district, a dispute that had left 15 individuals injured and one deceased was settled through a traditional jirga organized by the provincial Directorate of Borders and Tribal Affairs.
Religious scholars emphasized the detrimental consequences of prolonged hostility and encouraged reconciliation. Both families accepted the mediators' decision fully, expressed gratitude for the process, and reconciled amicably.

**Since the start of the year, the Rural Rehabilitation and Development Directorate of Ghor has implemented 72 major development projects at a total cost of over AFN 337 million.**

# د اسلامي امارت د قلمي او فرهنګي مبارزینو ستاینغونډه...

...د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس محترم ډاکتر ملا عبدالواسع او یو شمېر نورو وزیرانو او امارتي چارواکو په حضور کې، د اسلامي امارت د قلمي او فرهنګي مبارزینو ستاینغونډه په ارګ کې ترسره شوه.

یاد مراسم چې د قرانکریم په څو مبارکو ایتونو پیل شول، د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس محترم ډاکتر ملا عبدالواسع د نظام په استحکام کې د قلمي مبارزې پر ارزښت خبرې وکړې او وې ویل، قلم هغه مقدسه او ارزښتناکه وسیله ده چې د ټولنې په اصلاح او د وګړو په فلاح کې ډېر اغېزناک رول لري، خو په دې شرط چې د قلم تقدس او معنویت وساتل شي. د شخصي اغراضو او هغو وړو موخو لپاره ونه کارول شي چې د اسلام د مبارک دین له اساساتو، انساني کرامت، د ټولنې او اسلامي ارزښتونو او منل شویو عنعناتو سره په ټکر کې وي.

ډاکتر ملا عبدالوسع په تېر جهاد او اوس د نظام ساتنه کې د قلمي مبارزې ارزښت د درک وړ وباله او زیاته یې کړه، مبارزین دې د اسلامي امارت دریځ، لومړیتوبونه، په بېلابېلو برخو کې شوي پرمختګونه او لاسته راوړنې برجسته کړي. د هیوادوالو د سعادت په موخه دې د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله تعالی مهمې توصیې، اساسي پیغامونه او سپارښتنې په داسې فصیح انداز بیان کړي، چې هیوادوال یې په اسانۍ درک کړي او خپل رغنده وړاندیزونه او نېکې مشورې دې په احسنه طریقه له مسئولینو سره شریکې کړي. د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس د ټولنې د اصلاح، د خلکو د اذهانو د روښانولو او د نظام پر وړاندې مسئولیتونو ته قلمي مبارزین متوجه کړل او ورته یې سپارښتنه وکړه، چې د هیواد د دښمنانو بې اساسه تبلیغات او ګونګوسې خنثی کړي.

وروسته قاري احمدالله سعید خوستي خبرې وکړې او وې ویل، د دغو مراسمو د جوړولو هدف تر فتحې وړاندې د هغو مبارزینو ستاینه ده، چې د اسلامي نظام د قیام او د اشغال د محوه کولو لپاره یې قلم پورته کړی و. نوموړي زیاته کړه، زموږ مبارزه یوازې په وسله نه وه، بلکې د قلم سنګر فعاله ساتل او د عامه افکارو مدیریت هم و. پخوا به یوازې له منبر څخه ډېره استفاده کېده او اوس د منبر ترڅنګ له ټولنیزو رسنیو او نورو ارتباطي وسایلو څخه استفاده مهمه او حیاتي ده.

قاري سعید خوستي وویل، اوسمهال اړتیا ده چې له دفاعي حالت څخه د تهاجمي حالت پر لور ولاړ شو او د عمراني او لویو زېربنایي پروژو جوړول، د سوداګرۍ او ټرانزیټ او نړۍ سره د اړیکو پراختیا ته ډېر انعکاس ورکړو.

وروسته د ورزش، بدني روزنې او المپیک کمېټې رئیس احمدالله وثیق د دغو مراسمو پر جوړولو د خوښۍ څرګندولو ترڅنګ وویل، څه موده وړاندې یې له عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی سره لیدنه درلوده او هغه هم د اسلامي امارت د مبارزینو د فعالیتونو پر دوام د ټینګار ترڅنګ وویل، په دې برخه کې باید ارزښتناک کارونه ترسره شي. نوموړي څرګنده کړه: دا چې د مغرضو رسنیو لخوا د اسلامي امارت پر وړاندې منفي تبلیغات زیات شوي، باید د دغو تبلیغاتو د دفع او ردولو لپاره د مبارزې ډګر لا زیات پیاوړی کړو او د اسلامي امارت د قلمي او فرهنګي مبارزینو لپاره باید د فکري انسجام یو مرکز جوړ شي.

وروسته د استخباراتو عمومي ریاست مرستیال ملا تاجمیر جواد خبرې وکړې او وې ویل: شرعي نظام او د اسلامي امارت زعامت قلمي او فرهنګي مبارزې ته ځانګړې توجه لري. د اسلامي امارت قلمي او فرهنګي مبارزینو د اشغال په ۲۰ کلونو کې څو جبهې ګرمې ساتلې وې او د جهاد د مشروعیت ساتلو، د خلکو ارادې مدیریت، پر باطل د حق بري څخه داډ، د دښمن له جنایتونو څخه پرده پورته کول او د مجاهدینو د اتلولیو برجسته کولو په برخو کې یې ارزښتناکې هڅې وکړې. نوموړي وړاندیز وکړ، چې د فرهنګي او قلمي مبارزې او د شرعي نظام د پالیسۍ او فعالیتونو د انعکاس لپاره باید له معاصرې ژبې او ټکنالوژۍ څخه په پیاوړي ډول استفاده وشي.

په دې مراسمو کې دوکتور لطف الله خیرخواه په یوویشتمه پېړۍ کې اسلام ته وړاندې ګواښونه تشریح کړل او د ځوانانو او مبارزینو پر بېدارۍ یې ټینګار وکړ او وې ویل، دې فکري جګړې ته باید لازم تیاری ولري.

همداراز په دې غونډه کې د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي ریاست مرستیال قاري عبدالستار سعید د لیکوالۍ د اصولو او د علمي او اکاډمیکو مقالو لیکلو په اړه مفصل معلومات ورکړل.

په همدې ترتیب، په دې مراسمو کې د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي خبرې وکړې او وې ویل، زموږ قلمي او فرهنګي مبارزه په ډېرو کمو امکاناتو پیل شوه او اوس یې لویه ثمره وینو. نوموړي دېته په اشارې، چې خلک ډېر ستاسو عمل ته ګوري زیاته کړه، په دې مبارزه کې د خلکو د باور ساتل، د ژبې او قلم د عفت او د اسلام مقدس دین د اصولو مراعتول مهم دي.

په پای کې مولوي صبغت الله وصیل په جهاد کې د اسلام د دښمنانو د تبلیغاتو پر وړاندې د رسول کریم صلی الله علیه وسلم د ژبې او قلمي مبارزې په اړه معلومات ورکړل او یاد مراسم د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي ریاست د سیاسي او ولسي چارو رئیس شیخ محمود ذاکري په دعائې پایته ورسېدل.

# افتتاح روند توزیع کمک‌ها به مهاجرین ولایت...

...محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست‌الوزراء به ولایت سرپل سفر نمود و طی آن روند توزیع کمک‌ها به مهاجرین آن ولایت را افتتاح کرد.

در این سفر که محترم مولوی عطاءالله عمری وزیر زراعت، آبیاری و مالداری، معاون ولایت، رئیس شورای علماء و عده‌یی از مسئولین محلی ولایت سرپل وی را همراهی نمودند. معاون اداری ریاست الوزراء گفت که رسیدگی به مشکلات مهاجرین از جمله مسئولیت‌های اساسی امارت اسلامی افغانستان است و نیاز است جهت رفع چالش‌های آنان تلاش مداوم صورت گیرد.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی خاطرنشان کرد که هموطنان زیادی در زمان اشغال بخاطر حفظ دین، ناموس و آبروی شان دست به مهاجرت زده و مشکلات فراوانی را متحمل شده‌اند، اما متاسفانه از سوی کشورهای همسایه برخلاف اصول همسایه‌داری و قوانین بین‌المللی به گونه اجباری اخراج می‌شوند و سخت نیازمند همکاری هستند.

معاون اداری ریاست الوزراء، گفت که بنابر هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ‌القرآن والحدیث مولوی هبة الله آخندزاده حفظه‌الله تعالی، روند توزیع کمک‌ها به مهاجرین آغاز گردید که این امر می‌تواند برای رفع نیازمندی‌های اولیه آنان موثر واقع شود. محترم مولوی عبدالسلام حنفی خطاب به مهاجرین عودت‌کننده، گفت که شما روزهای پرمشقت را پشت سر گذرانده‌اید، امارت اسلامی افغانستان در زمینه حمایت از شما کوتاهی نخواهد کرد و بدون شک با تلاش‌های پیگیر مشکلات شما برطرف خواهد شد.

معاون اداری ریاست الوزراء در اخیر سخنانش از شهروندان کشور خواست تا در راستای کمک و همکاری به بازگشت‌کنندگان و سایر هموطنان نیازمند سهیم شوند تا آنان در فصل زمستان با مشکلات و تکالیف مواجه نگردند.

# دایکندي کې د څه باندې ۷۰٦ زره ډالرو په لګښت د پیازو...

...باختر آژانس: د دایکندي ولایت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست مسئولین وايي چې د دې ولایت په نیلي، پاتو او شهرستان ولسوالیو کې ۵۵ د پیازو سړې خونې جوړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي. د دغې پروژې چارې د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان (FAO) په مالي ملاتړ د ۷۰۶ زره او ۹۵ امریکایي ډالرو په لګښت د افغان‌اید مؤسسې له لوري پلې شوې دي.

مسئولینو زیاته کړه چې د دغو سړو خونو د جوړولو موخه د کرنیزو حاصلاتو معیاري ساتنه، د پیازو د ضایعاتو مخنیوی، د بازارموندنې ښه والی او د بزګرانو د اقتصادي حالت پیاوړتیا ده، چې د دې پروژې عملي کېدل به د بزګرانو د عوایدو په زیاتوالي او د هغوی د ژوند د شرایطو په ښه کېدو کې مهم رول ولوبوي.

# معاون اداری ریاست الوزراء پروسه توزیع کمک به مهاجرین ولایت جوزجان...

...از طریق کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین جهت برطرف ساختن نیازمندی‌های آنان توزیع می‌گردد.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی در اخیر سخنانش، گفت که طی این پروسه در هر ولایت برای ۲۲۰۰ خانواده مستحق مهاجر کمک توزیع می‌شود که بر اساس آن برای هر خانواده مهاجر، مقدار ۲۵۰ کیلوگرام گندم و مبلغ ۵۰۰۰ افغانی کمک نقدی صورت می‌گیرد.

# دیدار رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء با شماری از جوانان شمال و...

محترم داکتر ملا عبدالواسع رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء با شماری از جوانان شمال وشمال شرق کشور در ارگ دیدار کرد.

در این دیدار ابتدا شیخ محمود ذاکری رئیس امور سیاسی و مردمی ریاست عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء ضمن خوش آمدید به جوانان متذکره، گفت که جوانان حیثیت پل میان ملت و حکومت را دارند و همانگونه که مشکلات مردم را با حکومت شریک می سازند، صدای نظام را نیز باید به ملت برسانند.

سپس فخرالدین فخری، سید عمران مجددی و سید صدیق الله صارم به نمایندگی از سایر جوانان پیشنهادات و مشکلات شانرا در مورد بلند بردن سطح علمی جوانان، سرمایه گذاری بالای جوانان، حمایت از جوانان مبتکر و معلول و توجه به تجهیز مراکز صحی شمال و شمال شرق کشور، شریک ساختند.

محترم داکتر ملا عبدالواسع رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء ضمن خوش آمدید به آنها، گفت که جوانان حیثیت ستون فقرات جامعه را دارند و تربیت سالم آنان، ایجاد جامعه سالم را ضمانت می کند.

داکتر ملا عبدالواسع افزود: همانگونه که جوانان در زمان اشغال با ارادۀ قوی مبارزه کردند، اکنون در پاسداری نظام اسلامی نیز نقش مهم دارند.

وی با اشاره بر اینکه جوانان باید نظریات ملی داشته باشند و با وحدت برای کشور کار کنند، گفت که در پالیسی امارت اسلامی تعصب وجود ندارد.

رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء، گفت که با برقراری نظام اسلامی، امنیت سرتاسری تامین شده و فعالیت های اقتصادی و پروژه های انکشافی در تمام کشور جریان دارد.

در اخیر، محترم داکتر ملا عبدالواسع به جوانان شمال و شمال شرق کشور اطمینان داد که بالای خواست ها و پیشنهادات آنان غور صورت خواهد گرفت.

# سفر معاون اداری ریاست الوزراء به ولایت...

...محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست‌الوزراء در رأس یک هیأت، به ولایت بلخ سفر نمود.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی که از سوی محترم مولوی عطاءالله عمری وزیر زراعت، آبیاری و مالداری، رئیس شورای علماء و تعدادی از مسئولین محلی ولایت بلخ همراهی می‌گردید، طی مراسمی، پروسه توزیع کمک‌ها برای مهاجرین ولایت بلخ را افتتاح نمود.

این کمک‌ها بر اساس هدایت عالیقدر امیر المؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوی هبة الله آخندزاده حفظه الله، از طریق کمیسیون عالی رسیدگی به امور مهاجرین برای رسیدگی به وضعیت مهاجرین مستحق توزیع می‌گردد.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی از همه هموطنان خواست که به عودت کنندگان و سایر هموطنان مستحق در زمستان سرد به قدر توان شان کمک و همکاری نمایند تا مشکلات و تکالیف آنها کاهش یابد.

# جلسۀ کمیسیون اداری تدویر یافت

جلسۀ کمیسیون اداری تحت ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست‌الوزراء، با حضور اعضای این کمیسیون دایر گردید.

در آغاز جلسه، کمیته‌های مؤظف گزارش‌های لازم را در خصوص فعالیت‌ها و اجراآت شان ارائه نمودند. پس از آن، مسودۀ قانون جدید شاروالی‌ها مورد بحث قرار گرفت و در زمینه تصامیم لازم اتخاذ شد.

در مسودۀ قانون جدید شاروالی‌ها، برعلاوۀ دیگر موضوعات مهم بر اهمیت حفظ ساحات سرسبز و نقش شاروالی‌ها در بهبود وضعیت محیط شهری تأکید گردید و راهکارهای عملی در این زمینه مورد بررسی قرار گرفت.

در پایان جلسه، جهت غور و بررسی بیشتر روی سایر موضوعات شامل آجندا وظایف مشخصی به کمیته‌های جداگانه سپرده شد.


# نجات هشت زن از خشونت خانوادگی در...

...مسئولان وزارت امر بالمعروف، نهی از منکر و سمع شکایات در ولایت های تخار، بلخ، فاریاب، هرات و دایکندی، در پی دریافت شکایات مردمی، توانستند هشت زنی را که طی سال‌های گذشته با خشونت خانوادگی مواجه بودند، نجات دهند.

این زنان به دلیل دوام خشونت‌های خانوادگی، برای مدت طولانی از حقوق شرعی خویش محروم مانده بودند؛ اما با تلاش منسوبین این وزارت، از وضعیت خشونت‌آمیز رهایی یافته و حقوق شرعی آنان مطابق احکام شریعت اسلامی تأمین گردید.

منسوبین، شوهران این زنان را به ریاست‌های ولایتی این وزارت احضار کردند و پس از بررسی‌های همه‌جانبه و ارائه توصیه‌های لازم درباره حقوق شرعی زنان، از آنان تعهدات کتبی اخذ نمودند تا در آینده از هرگونه رفتار خشونت‌آمیز در برابر همسران خودداری کرده و حقوق شرعی آنان را به‌طور کامل رعایت نمایند.

# معاون اداری ریاست‌الوزراء در مراسم دستاربندی فارغین ولسوالی اندخوی...



...مسئولان مدرسه تبریک گفته اظهار داشت که علمای دین نقش اساسی در اصلاح جامعه، ترویج ارزش‌های اسلامی و حفظ وحدت میان مردم دارند.

وی افزود که تحصیل علوم دینی به ویژه حفظ قرآن‌کریم و فراگیری حدیث نبوی مسئولیت بزرگی را بر دوش علماء می‌گذارد و لازم است فارغین با اخلاص، تقوا و عمل به علم خویش در خدمت دین و جامعه قرار گیرند.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی همچنان از تلاش‌های اساتید و مسئولان مدرسه قدردانی نموده تأکید کرد که امارت اسلامی از نهادهای علمی و دینی حمایت نموده و برای رشد و تقویت مراکز تعلیمی توجه ویژه دارد.

قابل یادآوری است که در این دوره به تعداد ۴۴ تن حافظان قرآن‌کریم و علمای دوره حدیث با موفقیت فارغ گردیده اند.

امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
دفتر سخنگو
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

# ارگ نامه

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰٦۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

## د ریاست الوزراء اداري مرستیال د فاریاب ولایت له یو شمېر تاجرانو او پانگوالو سره وکتل



د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي فاریاب ولایت ته د سفر په لړ کې د یاد ولایت له یو شمېر تاجرانو او پانګوالو سره وکتل.

په دې کتنه کې چې د کرنې، اوبولګولو او مالداري وزیر محترم مولوی عطاءالله عمري، د فاریاب والي محترم مولوی عبدالاحد فضلي او د یاد ولایت یو شمېر نورو مسئولینو هم حضور درلود، تاجرانو او پانګوالو د مسئولینو د خدماتو او د اسلامي امارت له لوري د سوداګرۍ او پانګونې لپاره د لازمو اسانتیاوو په برابرولو خوښي څرګنده کړه او دا مهم اقدامات یې د ټولو افغانانو په ګټه وبلل.


هغوی د امنیت تأمین د خلکو د خوښۍ سرچینه وباله او زیاته یې کړه، په هیواد کې د سوداګرۍ او پانګونې د ښو فرصتونو رامنځته کېدل د زیاتو داخلي او بهرنیو تاجرانو او پانګوالو د هڅونې لامل شوی.

د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي وویل، اسلامي امارت اقتصادي ودې او په هیواد کې د پرمختګ د زمینو رامنځته کېدو ته ژمن دی او کوښښ کوي په دې برخه کې ارزښتناک اقدامات وکړي.

د ریاست الوزراء اداري مرستیال وویل، اسلامي امارت ټول هغه موارد چې په هیواد کې د سوداګرۍ او پانګونې د ځلېدو لامل کېږي، ارزولي او د تاجرانو او پانګوالو د ملاتړ لپاره به لا زیات مهم ګامونه واخلي.

محترم مولوی عبدالسلام حنفي همدارنګه د راستنو شویو مهاجرینو موضوع ته اشاره وکړه او له ټولو هیوادوالو په ځانګړې توګه له تاجرانو او پانګوالو یې وغوښتل چې د خپل توان په اندازه له مهاجرینو سره مرسته وکړي، ترڅو سوړ ژمی له ستونزو پرته تېر کړي او ورځني ژوند ته دوام ورکړي.

## معاون اداری ریاست الوزراء پروسه توزیع کمک به مهاجرین ولایت جوزجان را افتتاح کرد




محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست‌الوزراء در حالیکه از سوی محترم مولوی عطاءالله عمری وزیر زراعت، آبیاری و مالداری، مولوی عبدالله سرحدی والی ولایت جوزجان، معاون آن ولایت، رئیس شورای علماء و تعدادی از مسئولین محلی همراهی می‌گردید، طی سفر به ولایت جوزجان، روند توزیع کمک‌ها برای مهاجرین آن ولایت را افتتاح نمود.

در این سفر معاون اداری ریاست الوزراء گفت که رسیدگی به مشکلات مهاجرین از مسئولیت‌های امارت اسلامی است و از هیچ تلاشی در این راستا دریغ نخواهد شد. معاون اداری ریاست الوزراء، افزود که این کمک‌ها طبق هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ‌القرآن والحدیث مولوی هبة‌الله آخندزاده حفظه الله تعالی...

۵

## معاون اداری ریاست‌الوزراء در مراسم دستاربندی فارغان ولسوالی اندخوی اشتراک و سخنرانی کرد



محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست‌الوزراء در مراسم دستاربندی فارغان سومین دور مدرسهٔ جامعیهٔ دارالعلوم و دارالحفاظ عمری ولسوالی اندخوی ولایت فاریاب اشتراک و سخنرانی نمود.

در این مراسم که محترم مولوی عطاءالله عمری وزیر زراعت، مالداری و آبیاری، محترم مولوی عبد الاحد فضلی والی ولایت فاریاب، شیوخ کرام، علماء و سایر مسئولین محلی نیز حضور داشتند، ابتدا معاون اداری ریاست‌الوزراء فراغت آنان را به خانواده‌ها، اساتید، علماء و...

۵

## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با شماری از علماء، متنفذین و تاجران ولایت جوزجان

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء طی سفری به ولایت جوزجان، با شماری از علماء، متنفذین و تاجران آن ولایت دیدار نمود.

در این دیدار که مولوی عبدالله سرحدی والی ولایت جوزجان و دیگر مسئولین محلی آن ولایت نیز حضور داشتند، ابتدا علماء، متنفذین و تاجران متذکره در مورد وضعیت کلی این ولایت صحبت نمودند و از تلاش‌های مسئولین در راستای تأمین امنیت و ارائهٔ خدمات به مردم ابراز خرسندی کردند. آنان در ادامه از فعالیت‌ها و دستآوردهای امارت اسلامی به‌خوبی یاد کرده و خواستار توجه مسئولین در تطبیق پروژه‌های انکشافی و ایجاد مراکز تعلیمی و صحی در نقاط مختلف این ولایت شدند.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با ابراز خرسندی از این دیدار، گفت که رسیدگی به مشکلات شهروندان و فراهم سازی رفاه اجتماعی از مسئولیت‌های اساسی امارت اسلامی است و مسئولین در این خصوص بدون وقفه در تلاش هستند.

معاون ریاست الوزراء افزود که امارت اسلامی در تمامی عرصه‌ها به خصوص در زمینهٔ امور انکشافی، تعلیم و تربیه و صحت توجه ویژه دارد و در راستای رشد و انکشاف کشور از هیچ تلاشی دریغ نمی‌ورزد. محترم مولوی عبدالسلام حنفی در ارتباط به پیشنهادات علماء، متنفذین و تاجران ولایت جوزجان، گفت که امارت اسلامی با در نظرداشت امکانات دست داشته در زمینه رسیدگی نموده و اقدامات لازم را انجام خواهد داد.

## ۳۸ باب تاسیسات صحی مسدود و ۲ تن مواد غذایی تاریخ‌گذشته جمع‌آوری شد

مسئولان ریاست صحت عامه ولایت پکتیا از بخش صحی خصوصی و فروشگاه‌های عمده و پرچون مواد غذایی در مرکز گردیز و ولسوالی‌های زرمت و روحانی‌بابا بازدید و نظارت نمودند. در نتیجه این بررسی‌ها، ۴ باب کلینیک سراپا، ۱۸ باب معاینه‌خانه، ۹ باب کلینیک دندان، ۶ باب لابراتوار و ۱ باب اتاق اکسری به دلیل نداشتن جواز قانونی و نقض قوانین صحی مسدود گردیدند.

همچنان، طی این نظارت، ۱۵ قلم داروی تاریخ‌گذشته و ۸۲ قلم مواد غذایی که مجموعاً حدود ۲ تن می‌شوند، جمع‌آوری و برای از بین بردن به گدام مرکزی منتقل گردید.

## تطبیق هفتاد و دو پروژه انکشافی در ولایت غور

آژانس باختر: ریاست احیا و انکشاف دهات غور از آغاز سال روان، ۷۲ پروژه مهم انکشافی را به هزینه مجموعی بیش از ۳۳۷ میلیون افغانی در این ولایت تطبیق کرده است. رئیس احیا و انکشاف دهات ولایت غور می‌گوید که این پروژه‌ها شامل اعمار شبکه‌های آب رسانی، ساخت و ترمیم سرک های روستای، حفظ الصحه و مساعدت با خانواده‌های بی‌بضاعت در این ولایت بوده است.

مسئولان ریاست احیا و انکشاف دهات می افزایند، هزینه مجموعی این پروژه‌ها ۳۳۷ میلیون و ۶۵۵ هزار افغانی می‌باشد که از سوی مؤسسات همکار پرداخت گردیده‌است.

به گفته مسئولین، تکمیلی این پروژه ها، زمینه دسترسی ۱۷۵۰۰ خانواده به آب آشامیدنی صحی را فراهم ساخته و نیز ۴۳۸۰۰ خانواده دیگر از مساعدت های مواد غذایی و پول نقد مستفید شدند.


مسئولین ریاست احیا و انکشاف دهات می‌افزایند که کار ۶۵۰ کیلومتر سرک روستایی نیز در این ولایت تکمیل و به بهره برداری سپرده شده است.

در همین حال، باشندگان غور از تطبیق این پروژه‌ها ابراز خرسندی کرده و تطبیق این پروژه‌ها را یک گامی مهم در بهبود مور معیشتی شان می‌دانند.

## نجات هشت زن از خشونت خانوادگی در پنج ولایت

۵

## دایکندي کې د څه باندي ۷۰۶ زره ډالرو په لګښت د پیازو ۵۵ سړې خونې جوړې شوې



۵